د افغانستان بانک

آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

د صرافی او جواز ورکولو مرستیالیت

د جواز ورکولو مدیریت

شماره: ۱۰۴۹۰ ۱۶۳۷۱ / ۱۶۳۷۰

تاریخ: ۲۷/۱۰/۱۴۴۷

بسم الله الرحمن الرحیم

**د برېښنايي پیسو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته!**

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع :** د نورو ادارو سره د برېښنايي پيسو مؤسسو د سیستمونو (پلاټفارم) د وصلیدلو په اړه

په ډېر درناوي سره لیکل کیږي:

لکه څرنگه چې د اړتیا مطابق او د برېښنايي پيسو مؤسسې تل هڅه کوي چې خپل سیستمونه (پلاټفارم) د نورو امارتي او غیر امارتي ادارو د سیستمونو سره وصل کړي تر څو د یادو ادارو خدمتونه هم د خپلو سیستمونو (پلاټفارم) له لارې په اسانه توگه وړاندې کړي. په دې اساس، ټولو جواز لرونکو برېښنايي پيسو مؤسسو ته هدایت ورکول کیږي، مخکې له دې چې خپل سیستم د نورو ادارو د سیستمونو سره وصل کړي د موضوع په اړه دې د غیر بانکي مالي مؤسساتو لوی آمریت او د افغانستان د اداېنو سیستم د قدر وړ لوی آمریت ته په رسمي بڼه خبر ورکړي تر څو د ملاحظاتو یا نظریاتو د شتون په صورت کې مؤسسې په جریان کې شي او د راتلونکي احتمالي ستونزو د رامنځته کیدو مخنیوی وشي.

پورته موضوع ستاسو د قدر وړ اتحادیې سره شریکه شوه تر څو د جواز لرونکو مؤسسو د پوهاوي او لازمو اجراآتو په موخه شریکه کړی.

د افغانستان بانک تاسو ته په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. والسلام

۱۴۴۷/۱۰/۲۷

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

کاپي: د افغانستان د اداېنو سیستم د قدر وړ آمریت ته.